جمهورية مصر العربية ٢١محرم ١٤٤١هـ
وزارة الأوقاف لغة البشتو ٢٠سبتمبر ٢٠١٩م

(١)

**د تکبر نښې، ځان غوره ګڼل او د الله تعالی د ین ځخه منع والی**

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **«سَأَصۡرِفُ عَنۡ ءَايَٰتِيَ ٱلَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَإِن يَرَوۡاْ كُلَّ ءَايَةٖ لَّا يُؤۡمِنُواْ بِهَا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلرُّشۡدِ لَا يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗا وَإِن يَرَوۡاْ سَبِيلَ ٱلۡغَيِّ يَتَّخِذُوهُ سَبِيلٗاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ»ژباړه:« زه به له خپلو نښانو ځخه د هغو خلکو سترګي واړوم چې په ناحقه په ځمکه کښې تکبر کوي. هغوی که هره نښانه وګوري هیڅکله به ایمان پر را نه وړي. که سمه لاره یې په مخ ورشي نو هغه به غوره نکړي او که کږه لاره یې تر سترګو شي، نو پر هغې به وخوځیږي؛ ځکه هغوی زموږ نښاني دروا غ وګڼلې او له هغو ځخه یې بې پروایي وکړه.»** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

د کبر لرونکو انسانانو پایله په دنیا او آخرت کې ډیر سخت دی، برابره خبره ده چې دا خلک وي او که ملتونه او که دلې، نو د ملتونو هلاکیدل چې ځانونه یې غوره ګڼل او تکبر یې کولو د الله تعالي د سنتوځخه بخپله بندګانو دي او هیڅکله د الله تعالي په سنتو کې بدلون نه رامنځته کیږي، الله تعالی فرمایي:« فَأَمَّا عَادٞ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَهُمۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا فِيٓ أَيَّامٖ نَّحِسَاتٖ لِّنُذِيقَهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَخۡزَىٰۖ وَهُمۡ لَا يُنصَرُونَ» ژباړه:«

د عادیانو حال دا ؤ چې هغوی په ځمکه کښي په ناحقه تکبر وکړ او ویې ویل: «زموږ څخه زیات زورور څوك دي؟!» - هغوی دا فکر ونه کړ چي کوم خدای چي هغوی پیدا کړي دي، هغه له دوی څخه زیات زورور دی؟ - هغوی زموږ د ایتونو څخه انکار کاوه؛ په پای کښي موږ په څو شومو ورځو کښي پر هغو سخت طوفاني باد والوزاوه. تر څو چي پر هغو باندي د همدې دُنیا په ژوند کښي د ذلت او رسوایی د عذاب خوند وڅکو او د اخرت عذاب خو له دې څخه هم زیات رسوا کوونکی دی. هلته به هیڅوك د هغو مرستندوی نه وي.» او په بل آیت کې فرمایي:« وَكَأَيِّن مِّن قَرۡيَةٍ عَتَتۡ عَنۡ أَمۡرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِۦ فَحَاسَبۡنَٰهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبۡنَٰهَا عَذَابًا نُّكۡرًا فَذَاقَتۡ وَبَالَ أَمۡرِهَا وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمۡرِهَا خُسۡرًا» ژباړه:« څومره کلي (د کلیو اوسېدونکي) دي چي هغوی د خپل رب او د هغه د پیغمبرانو له حُکم څخه سرغواړئ وکړ، نو موږ له هغو سره سخته محاسبه وکړه او هغوی ته مو سخته ناکاره سزا ورکړه؛ هغوی د خپلو کړنو خوند وڅکی او د هغوی د کار پای سراسر زیان دی».

تکبر او کبر کول لومړني هغه ګناه ده چي د هغه په وسیله د الله تعالی نافرماني شوي ځکه کله چې الله تعالی ملائکو ته امر وکړ چي آدم علیه السلام ته سجده وکړي ټولو سجده وکړه مګر ابلیس،لکه چې الله تعالی فرمایي:« وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ أَبَىٰ وَٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ » ژباړه:« او کله چي موږ پرښتو ته امر وکړ چي د ادم په وړاندي سرونه په سجده ښکته کړئ، نو ټولو سرونه ښکته کړل، خو ابلیس انکار وکړ، هغه د خپلي لویي په غرور اخته وو او د کافرانو له ډلي څخه شو».

د قیامت په ورځ کبر لرونکي خلک د هغوي د بدو څیرو څخه پیژندل کیږي، لکه څرنګه چې په دنیا کې پده څیره پیژندل کیږي الله تعالی فرمایي:« وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٗا يَعۡرِفُونَهُم بِسِيمَٰهُمۡ قَالُواْ مَآ أَغۡنَىٰ عَنكُمۡ جَمۡعُكُمۡ وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ» ژباړه:« بیا به دا د اعراف خلك څو تنه

غټ غټ دوږخيان د هغو په نښو نښانو سره وپېژني، اواز به ورته وکړي: " تاسي وليدل، نن نه ستاسي ډلي ټپلي ستاسي څه درد دوا کړ، نه مو هغه وسايل په کار شول چي تاسي لوی شيان ګڼل.»نو ددی پر اساس اسلام د تکبر د بدو پايلو څخه خبرداری ورکوي، او هغه د الله د تعالی د رحمت د لري کيدو څخه يوه لاره بلي، او کبر کوونکو ته دير دردلرونکي عذاب خبرداری ورکوي لکه چې الله تعالی فرمايي:« إِنَّ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمۡ أَبۡوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ وَلَا يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلۡجَمَلُ فِي سَمِّ ٱلۡخِيَاطِۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُجۡرِمِينَ» ژباړه:« باور ولرئ! چا چي زموږ ايتونه درواغ ګڼلي دي او د هغو په مقابل کښي يې سرغړولی دی، د هغو لپاره به د اسمان دروازې هيڅکله پرا نه نستل شي. جنت ته د هغو تګ دومره ناممکن دی لکه د ستني له سپم څخه د اوښ تېرېدل. موږ مجرمان په همداسي مجازات محکوموو»، او په بل آيت کې فرمايي:« وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ تَرَى ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَى ٱللَّهِ وُجُوهُهُم مُّسۡوَدَّةٌۚ أَلَيۡسَ فِي جَهَنَّمَ مَثۡوٗى لِّلۡمُتَكَبِّرِينَ» ژباړه:« نن چي کومو کسانو پر الله درواغ تړلي دي، د قيامت په ورځ به ته هغوی ووينې چي مخونه به يې توروي. ايا په دوږخ کي د لويي کوونکو کافرانو لپاره کافي ځای نه شته؟»، او پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: جنت او دوزخ خپلو کې سره مجادله وکړه، دوزخ وويل: په ما کې ظلم کوونکي او کبر کوونکي دي، او جنت وويل: او په ماکې ضعيفه او ناتوانه خلک دي،نو الله تعالی د هغو په منځ کې فيصله وکړه او وي ويل: ای جنت ته زما رحمت يې، ستا په واسطه کوم څوک چې وغواړم خپل د رحمت او مهرباني تر سيوری لاندی راولم، او ته اي دوزخ زما عذاب يې، ستا په واسطه چې چاته وغواړم نو سزا ورکوم، او تاسو دواړه ډکوم.، او په بل حديث کې راغلي چې فرمايي: ....آيا تاسو ته د دوزخ خلک و نه پيژنم؟هغوي فاجران... او کبر کوونکې دي.
بی له شکه کبر داسی يو اخلاق دي چې په يو ناروغ زړه کې وسيږي ځکه کله ليدل کيږي چې يو شخص ډير فقير وي او هيڅ هم نلري خو د

کبر کوونکو له جملي څخه دی، او بل داسی څوک وي چې د مال او دنیا خاوند وي خو د متواضع خلکو د جملي څخه وي، پیامبر صلی الله علیه فرمایلي دي: جنت ته نه داخلیږي هغه څوک چې په زړه کې یو ذره هم کبر ولري.، یو سړي وویل: باید د انسان کالي او بوټان پاک او ښکلي وي، وفرمایل: الله تعالي ښکلي دی او ښکلا خوښوي، تکبر کول د حق ضد او پرخلکو مسخره کول دی.، کبر یو لویو او خطرناکو نفسي، رواني او ټولنیز ناروغیو له جملي څخه دی چې د انسان او د ټولني راون لمنځه وړي، او کبر کوونکي انسان پخپل نفس نه دوکه شوي او فکر کوي چې د نورو څخه غوره دی، الله تعالی فرمایي:« إِنَّ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِ سُلۡطَٰنٍ أَتَىٰهُمۡ إِن فِي صُدُورِهِمۡ إِلَّا كِبۡرٞ مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِ» ژباړه:« حقیقت دا دی، هغه کسان چې له کوم سند او دلیل پرته چې ورته راغلي وي، د الله په ایتونو کښي جګړې کوي، د هغو زړونه له کبر او سرکښي څخه ډك شویدي ، خو هغوی دغي لویی ته هیڅ چیري رسیدای نشي».
دا معلومه ده چې کبر د انسان په زړه کې ځاي لري خو ځیني داسی نښي لري چې د انسان په کړه وړه کې راڅرګندیږي د هغه جملي څخه: د عزت حس د ګناه سره او د حق څخه نافرماني کول: الله عالی فرمایي:« وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتۡهُ ٱلۡعِزَّةُ بِٱلۡإِثۡمِۚ فَحَسۡبُهُۥ جَهَنَّمُۖ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ» ژباړه:« او کله چې ورته ویل کیږي چې له الله څخه ووېرېږه؛ نو د خپل پت او ابرو مفکوره یې پر ګناه ټینګوي. د داسي انسان لپاره دوږخ کافي دی؛ او هغه ډېر ناکاره استوګنځی دی» نو متکبر انسان په ټول ناوړه غرور او ناوړه چلند سره حق ردوي او کله چې د هغه نه وغوښتل شي چې بیرته حق ته راوګرځي نو د هغه غرور او کبر نور هم ډېریږي، او ځان په هلاکت کې اچوي الله تعالی فرمایي:« فَحَسۡبُهُۥ جَهَنَّمُۖ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ» ژباړه:« د داسي انسان لپاره دوږخ کافي دی؛ او هغه ډېر ناکاره استوګنځی دی»داسی خلک شته چې د نبي کریم په امر باندي تکبر کوي، نو د خپل د تکبر او سرغړوني سزا ګوري، د ایاس بن سلمه بن اکوع

رضي الله عنه څخه روایت دی چې پلار نه یي اوریدلي چې یو سړي د نبي کریم (ص) په وړاندي په چپ لاس خواړه خوړل نو پیغمبر(ص) وفرمایل: په ښي لاس وخوره، هغه وویل: نشم خوړلی وفرمایل: هیڅکله ونکړاي شی، او هغه پرته له تکبر څخه بل څه ددی څخه نه وو راګرځولي، روایت کوونکي وایي: چې هغه هیڅکله ونکړای شو هغه لاس خپل خولي ته پورته کړي.
او د هغه جملي څخه:په بی پروایي سره د خلکو څخه مخ اړول دي: الله تعالی د لقمان په ژبه ددغه کار څخه نهي کړی او فرمایي:« وَلَا تُصَعِّرۡ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٖ» ژباړه:« او له خلکو سره په مخ اړولو خبري مه کوه، پر ځمکه په خیال (په غرور) مه ځه، الله هیڅ یو، په ځان مین او ویاړ ښکاره کوونکی انسان نه خوښوي.» او ځیني نور یي: غرور په کړونو کې: پدي معنا یعنی د ځان ستایل ځان غوره ګڼل په نورو په کړونو او چلند کې کې الله تعالی فرمایي:« وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ ٱلۡأَرۡضَ وَلَن تَبۡلُغَ ٱلۡجِبَالَ طُولٗا كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُۥ عِندَ رَبِّكَ مَكۡرُوهٗا» ژباړه:« په ځمکه کښي ویاړلی (په تکبُر سره) مه ځه، ته نه ځمکه څیرولای شې، نه د غرونو هسکوالی ته رسېدلای شې. له دغو چارو څخه د هر یو بد اړخ ستا د پروردګار په نزد ناکاره دی.» او ځیني نور یي کبر کول په دنیاوي څیزونو او د الله تعالی په نعمتونو باندی دی، نبي کریم فرمایي: یو سړي ستاسی څخه مخکي امتونو د جملی څخه په شکلو جامو کې راښکاره شو او کبر یي درلودلو نو الله تالی ځمکې ته امر ورکړ چې هغه راواخلي نو هغه تر قیامت ورځه پوري په چټکي سره هغه کې ننوځي.، لکه څرنګه چې تکبر په کالیو وي په فرش، د کور سامان په موټر کې په سپریدو د ښکلو ماڼیو درلودل او نور دنیاوي څیزونو باندي هم تکبر وي، او ځیني نور یي: د غریبانو او مسکینانو په مجلس کې نه ګډون د هغه د کم راوستلو په مقصد: لکه څرنګه چې مشرکینو د فقیرو صحابه ؤ په مجلس

کې د کېدون څخه منع کوله لکه سلمان، صهيب، او بلال رضي الله عنه او د هغو په څېر نور، لکه چې پيغمبر (ص) ته به يې ويل: هغوي د ځان څخه لرې کړه تر څو پرمونږ جرئت ونکړي، نو الله تعالی دغه آيت رانازل کړ:« وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ» ژباړه:« او کوم خلك چې شپه او ورځ خپل رب ته لاس په دُعا دي او د هغه خوښي غواړي، هغوی له خپله ځانه ليرې مه شړه.»، او همدارنګه ځيني نور د ځان غوره ګڼلو په نور باندي د ډولونو څخه: په محافلو او ميلمستيا ګانو کې يواځې د پيسه دارانو څخه پذيرايي کيږي نه د غريبانو د هغو د کم ښودلو په وجه: ابوهريره رضي الله عنه فرمايي: تر ټولو بد خواړه د هغه ميلمستيا خواړه دي چې په هغه کې پيسه داران رابلل کيږي او غريبان لرې شړل کيږي.

همداسې د کبر د نښو څخه : په غرور سره سلام او لاس ورکول هغه چا سره چې هغه ټيټ ځای ولري: نبی کريم تل به لوي او وړو ته په سلام پيل کولو په يو حديث کې راغلي چې پيغمبر (ص) په يو ډله د ماشومانو را تير شو او په هغوي يې سلام وکړ.

همداسې د تکبر د نښو څخه: په خصومت کې شدت او بداخلاقي ده: بی له کوم اختلاف څخه د يو مسلمان د بل مسلمان ورور سره د دري ورځو څخه زيات خپګان حرام دی، ځکه پدغه کار کې د رحم صله لمنځه تلل، ضرر او فساد دب، او هغه څوک چې ددريو ورځو څخه زيات د خپل ورور څخه خپکان وکړي د هغه لپاره په آخرت کې سخت او شديد خبرداری ورکړل شوي دی، نبي کريم وفرمايل: څوک چې د خپل ورور څخه د دری ورځو څخه ډير خپه شي نو ځاي يي په دوزخ کې دي، مګر دا چې الله تعالی هغه په خپل فضل او کرم سره وبخښي.،او په بل حديث کې فرمايي: دا صحيح نده چې يو مسلمان د خپل بل مسلمان ورور نه د دری ورځو څخه زيات خپه پاتي شي، لکه څنګه چې کله يو بل سره مخامخ شي نو يو بل نه مخ وګرځوي، د هغو څخه غوره هغه دي چې اول

سلام ووايي.، نبي کريم په بل حديث کې فرمايي: دغه څلور خصلته په هرچا کې چې وي هغه په پوره ډول سره منافق دی، او په هغه چا کې چې يو خصلت ددی څخه وي نو هغه يو خصلت د نفاق لري ترڅو هغه پريږدي: هرکله چې امانت وسپارل شي خيانت کوي، کله چې خبري کوي دروغ وايي، که وعده وکړي عمل پری نکوي، او هرکله چې خصومت وکړي نو په هغه کې بداخلاقي او غدر کوي.

په واقعيت کې د زياترو مشرکانو د ايمان نه راوړلو او د الا اله الله کلمې د نه لوستلو وجه د هغوي تکبر او ځان غوره ګڼل د نورو څخه وو الله تعالی فرمايي:« إِنَّهُمۡ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسۡتَكۡبِرُونَ» ژباړه:« دا هغه کسان ول چې کله به ورته ويل کېدل چې د الله څخه پرته بل هيڅ بر حق معبود نه شته، نو دوی به مغروره کېدل» نو د بل دين منل بغير د خپل د پلارانو د دين څخه يي ډېره کوله، او د کبر او غرور له وجه نه يهودو نبي کريم څخه پيروي ونکړه،او ښه د نبي کريم په صداقت او پيغمبري پوهيدل، الله تعالی فرمايي:« ٱلَّذِينَ ءَاتَيۡنَٰهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ يَعۡرِفُونَهُۥ كَمَا يَعۡرِفُونَ أَبۡنَآءَهُمۡۖ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنۡهُمۡ لَيَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ» ژباړه:« کومو خلکو ته چې موږ کتاب ورکړيدی، هغوی دا ځای (چې قبله ټاکل شوېده يا دا پيغمبر) داسي پېژني لکه څنګه چې خپله اولاده پېژني، خو له هغو څخه يوه ډله له پوهي او ادراك سره سره حق پټوي.» همدا کبر او ځان غوښتنه وه چې بني اسرائيل يی ديته اړ کړ چې خپل پيغمبران درواغ وګڼي او ځيني د هغو نه ووژني الله تعالی فرمايي:« أَفَكُلَّمَا جَآءَكُمۡ رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهۡوَىٰٓ أَنفُسُكُمُ ٱسۡتَكۡبَرۡتُمۡ فَفَرِيقٗا كَذَّبۡتُمۡ وَفَرِيقٗا تَقۡتُلُونَ» ژباړه:« هر کله چې کوم پېغمبر ستاسي د نفسي غوښتنو پر خلاف له کوم شي سره تاسي ته راغلی دی، نو تاسي ورڅخه سرکښي کړېده: څوك مو درواغجن ګڼلي دي او څوك مو وژلي دي».

په ريښتينی سره پخوانيو ملتونو په منځ کې کبر د کفر او تکذيب لامل وو الله تعالی د نوح عليه السلام په ژبه فرمايي:« وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوۡتُهُمۡ لِتَغۡفِرَ لَهُمۡ

جَعَلُوٓاْ أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَٱسۡتَغۡشَوۡاْ ثِيَابَهُمۡ وَأَصَرُّواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ ٱسۡتِكۡبَارٗا» ژباړه:« او هر کله چي ما هغوی دې ته وبلل چي ته بخښنه ورته وکړې، هغوی په غوږونو کښي ګوتي کښېښودې، په جامو سره يې مخونه وپوښل، په خپل چلند يې ټينګار وکړ او ډېر تکبر يې وکړ؛» الله تعالی د نوح عليه السلام د قوم داستان داسې بيانوي:« فَأَمَّا عَادٞ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَهُمۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ» ژباړه:« د عاديانو حال دا ؤ چي هغوی په ځمکه کښي په ناحقه تکبر وکړ او ويې ويل: «زموږ څخه زيات زورور څوک دي؟!» - هغوی دا فکر ونه کړ چي کوم خدای چي هغوی پيدا کړي دي، هغه له دوی څخه زيات زورور دی؟ - هغوی زموږ د ايتونو څخه انکار کاوه؛»الله تعالی د صالح عليه السلام قوم په هکله فرمايي:« قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِمَنۡ ءَامَنَ مِنۡهُمۡ أَتَعۡلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحٗا مُّرۡسَلٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلَ بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا بِٱلَّذِيٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ» ژباړه:« د هغه د قوم هغو مشرانو چي تکبر يې غوره کړی ؤ، د ټيټي طبقې هغو خلکو ته چي ايمان يې راوړی ؤ، وويل: "ايا تاسي په رښتيا سره په دې پوهيږئ، چي صالح (ع) د خپل رب پيغمبر دی؟" - هغوی ځواب ورکړ: "په دې کښي شك نشته، له کوم پيغام سره چي هغه لېږل شوېدی، موږ يې منو." هغو تکبر کوونکو وويل: "کوم شی چي تاسي منلی دی، موږ له هغه څخه منکر يوو."» الله تعالی د شعيب عليه السلام د قوم حالت داسې بيانوي:« قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَنُخۡرِجَنَّكَ يَٰشُعَيۡبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَكَ مِن قَرۡيَتِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۚ قَالَ أَوَلَوۡ كُنَّا كَٰرِهِينَ» ژباړه:« د هغه (شعيب ع) د قوم مشرانو، چي د خپل تکبر په غرور کښي اخته ول، هغه ته وويل: "اې شعيبه ع! موږ به تا او هغه خلك چي ستا سره يې ايمان راوړی دی، له خپلي سيمي څخه وباسو او يا به بېرته زموږ ملت ته راواوښتونکي ياست." شعيب (ع) ځواب ورکړ: "ايا موږ به په زور واړول شو، که

زموږ خوښه هم نه وي؟» او پدغه ډول سره هر هغه ملت چې تكبر يي كړى او د خپل د پروردګار د امر څخه يي سرغړونه كړي انجام يى هلاكت تباهي وو، نو څه په بد پايلي اخته شول.
په واقعيت كې د هغه كسانو علاج چې پدغه ناعلاجه ناروغي ككړ شوي مخكې تر اخته كيدو څخه د هغو علاج وشي او مخنيوي ترى وشي، پدي چې د خپل نفس په قدر پوه شي او د خپل وجود اصل ته پام شي چې د عدم څخه وروسته اول د خاوري بيا د نطفي بيا د ويني بيا د يوي ټوتي ويني څخه رامنځته شوى او وروسته داسى شى ترى رامنځته شو چې مخكې نه وو او بايد متكبر انسان ځان پدي پوه كړي چې د قيامت په ورځ د خپل قصدپه ضد مجازات كيږى، نو څوک چې په تكبر سره د الله تعالى په مخلوق باندي ځان غوره وګڼي نو د جزا په ورځ د خوارو او ذليلو خلكو سره يو ځاى كيږي، نبي كريم (ص) فرمايى: متكبرانسان د قيامت په ورځ د يو ذري غوندي د خلكو پرمنځ كې راګډيږي، او ذلت د هرى خوا نه ترى چاپيره وي. الله تعالى فرمايي« تِلۡكَ ٱلدَّارُ ٱلۡأٓخِرَةُ نَجۡعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوّٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فَسَادٗاۚ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلۡمُتَّقِينَ »: ژباړه:« د اخرت هغه كور خو به د هغو خلكو لپاره ځانګړى كړو، چې په ځمكه كښي خپله لويي نه غواړي او نه د فساد كولو اراده لري. او نېک عاقبت يوازي د پرهېزګارانو لپاره دى.»

**اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولكم**

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دى چې د ټولو مخلوقاتو پالونكى دى، درود سلام او بركت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيكى سره د هغه تابعداري كوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

ځيني نور د الله تعالی د لاري څخه د لري کيدلو نښو له جملې څخه په خبرو او کړنو کې تناقض او د سولي غوښتل د هغه چا څخه دی چې پخپل شکل او ظاهر باندي تمرکز کوي، او په مطلق ډول سره ظاهر ته اولويت ورکوي، اګر که هغه د عقل په تاوان هم تمام شي او حتي تردي چې ددغه ظاهري خاوند لرونکي د انساني او اخلاقي چوکاټو څخه بهر هم وي او هغه رهبر او نومنه وګرځوي، ځکه هغه ظاهري شکل لرونکي چې کړني يي د اسلامي لارښوونو سره برابر نه وي يو د ويجاړي کرکي او دالله تعالی دين څخه د لري کيدلو مهمو نښو څخه دی، او ددغه ډول خلکو سره د نبي کريم دغه وينا برابره ده: تاسو له جملي څخه ځيني د کرکي وړ ياست.
کله چې د يو چا شکل او څيره د ديندار يو خلک سره مشابهت ولري ليکن کړني يی بد او ناوړه وي او دورغ ويونکي او خيانتکاره وي او يا د خلکو مال په ناحقه سره وخوري نو دا موضوع ډيره خطرناکه کيږی، بلکي د هغه خاوند منافق شميرل کيږي، لکه څرنګه چې د سرکشه او دين خرڅونکو ډلو حال داسی دی پدي چې هغوي ډير لوي حمايت کوونکې د تروريزم دي، او د هغو په ذريعه کوښښ کوي چې هيواد ناکام او ضعيفه کړي، چې د هغوي په ګمان د چوکي او قدرت ته رسيدو لاره ورته آسانه شي، او ددغه هدف د ترلاسه کولو لپاره د هري لاري څخه کار اخلي او هره وسيله جايزه ګڼي.
او همدارنګه هغه څوک چې ديندار ي او اجتهاد يوائې عباداتو پوری تړلي ګڼي دوي د دين څخه سم پوه نلري او زياده روي کوي او په خلکو وسله پورته کوي لکه څرنګه چې خوارجو دا کار ترسره کړ ګرچه هغوي ترنورو ډير لمونځونه به يی کول او روژی به يی نيولي خو د شرعي علم يي په سمه زدکړي نه وو چې د نه د جنګ څخه د ننه وتلو او ويني تويني مخنيوي وکړي نو توري به يی د خلکو په لور ايستلي او د هغو وينی به يی تويولي که چيرته هغوي شرعی علم په سمه توګه ترلاسه کړی وای نو

دغه کار به یی نه کولو، نو اسلام په ټولو مفاهیمو سره د رحمت او مهربانی دین دی، هر هغه څه چې تا د رحمت او مهرباني څخه لري کوي هغه تا د اسلام څخه لري کوي او هغه څه چې د اعتبار وړ دي هغه ښه چلند دی نه یواځې په خوله دعوا او وینا، لکه څنګه ویل شوی:د یوسړي حالت او عمل د زرو کسانو په منځ کې غوره د هغه زرو کسانو ویناوو څخه دی چې یو شخص ته کوي.

**یا الله! ته مونږته حق حق را برڅیره کړه او د هغه څخه پیروي زمونږ په برخه کړه او باطل باطل را وښایه او هغه څخه ځان ساتنه زمونږ په برخه کړه.**